بسم الله الرحمن الرحيم

# د «IMF » په نوم چاقو

**خبر: ش**

د فدرال کابينې د ګازو او نفتو شرکتونو د ونډو پلور او د دولتي اډو فرمان له اماراتو سره له دوه تر ۲,۵میلیارده ډالرو پلور تصويب کړ. متحده عربي اماراتو په مې مياشت کې اسلام اباد ته له نغدي ورکړې څخه د پخوانيو پورونو د نه ورکړې له امله ډډه وکړه او پر ځای يې غوښتنه وکړه چې د پانګونې لپاره شرکتونه پرانيزي. ([Tribune Pakistan](Tribune Pakistan))

**تبصره:**

ښکېلاک پايته نه دی رسېدلی، یوازې يې بڼې بدلون کړی. د پرمختګ په حال کې د هېوادونو د خپلواکۍ له پراخوالي څخه د مخنیوي لپاره تر ټولو ارزښتمن ابزار پور و. پاکستان کمزوری اقتصاد رامنځته کړ او هيله‌مند و چې له الله سبحانه وتعالی څخه د ډارېدونکو واکمنانو له خوا به اداره شي او د اسلامي نړۍ د پرمختګ په مسير کې به د اسلامي حکومت تر چتر لاندې پرمختګ وکړي.

د استعمار تر پړاو وړاندې بريټانيا د وريجو او منسوجاتو غوندې توکي له هندي توليدونکو څخه په سپينو زرو اخيستل.

خو کله چې د هندوستان په سوداګرۍ کې ختيځ انحصاري شرکت رامنځته شو، نو چور او چپاول يې پيل کړ. د بريټانيا ۲۰۰کلنه واکمني نه يوازې د دې لامل شوه چې ستر توکي له لاسه ورکړي، بلکې دغه قوانين په ستره کچه بيرته پرې راوګرځېدل. د ښکېلاکګرو او مزدورو واکمنانو تر منځ تړون پر دې اساس و چې هر يو خپلې ګټې خوندي کړي. له ابو خيدايش څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

**«الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْكَلَإِ وَالْمَاءِ وَالنَّارِ»**

**ژباړه:** *مسلمانان په درېيو شيانو کې شريک دي: څرځايونه، اوبه او اور.*

د پاکستان واکمنان د پيدايښت له وخته بيا تر نن پورې په بې شرمانه ډول خپله اساسي شتمني پلوري. کيسه تل په پور، له لاسه ورکوونې او د پخواني حکومت په ټمبلۍ پيلېږي او د خلکو د پراخې قربانۍ په ورکوونې پايته رسېږي. د پخوانيو پورونو د ورکړې لپاره د پيسو له نړيوال صندوق او نورو ادارو د نورو پورونو تر لاسه کولو نه يوازې د پاکستان اقتصاد فلج

کړی، بلکې د خلکو پت او عزت ته يې هم زيان رسولی دی. موږ د (PTCL) په څېر د ارزښتمندو شتمنيو د له منځه وړلو شاهدان وو.

په ۲۰۰۵ م کال کې د يو بې کفايته او نامناسب ستر شرکت تر طرحه کولو وروسته د پاکستان حکومت ۲۶سلنه ونډې د دوبۍ اتصالات ته په ۲,۶ميلیارده ډالرو ورکړې. د (PTCL) شرکت په خصوصي کېدو سره په جنوبي اسيا او سيمه کې په فناورۍ کې تر ټولو پياوړی شرکت و. تازه دغه شرکت په ۴۵۲ميليونه خالص سود سره خپل کلني عايد ۱,۴ميلیارده ډالر ثبت کړي دي.

په څلورو کلونو کې د شرکت د مارکېټ ارزښت ۷۵سلنه راټيټ شو چې په پايله کې يې د پاکستان حکومت ته درې میلیارده ډالر زيان واوښت. پر دې سربېره، اتصالات شرکت نن ورځ د حکومت ۸۰۰ميليونه ډالر پوروړی دی، چې د اوسني ارزښت دوه برابره دی. د دې کچې پوره کېدو پر ځای حکومت له عربي اماراتو نور پور هم غواړي.

د پاکستان د انرژۍ سکټور خصوصي کېدو د دغه هېواد کورنی اقتصاد فلج کړی او پاکستان د پورونو په ناوړه کړۍ کې راګير دی. که موږ د پاکستان بانکونو ته وګورو، په ۲۰۰۰ م کال کې ليدل کېږي چې هغوی له خصوصي کېدو څخه ډېره ګټه تر لاسه کړه، ځکه دغه ګټه دولت ته له پور ورکولو څخه ده.

که موږ خپله دنده او تګلاره په سمه توګه ترسره کړو او د نورو په زيان له لوبې لاس واخلو، نو د ټولي نړۍ لپاره به يوه بېلګه شو. دا څه به نه يوازې د اقتصادي ودې لامل شي، بلکې موږ به پر دې توانېدلي وو چې الله سبحانه وتعالی خوشحاله کړو.

د اسلام اقتصادي تګلاره له اسلامي عقيدې اخيستل شوې. بله هره پاليسي معيوبه او ثبات نه شي رامنځته کولی، ځکه هغه به د انسان د عقل پر اساس جوړه شوې وي. پر همدغه اساس، د اسلامي دولت پاليسي د ملي عوايد ډېرېدو پر اساس نه ده، بلکې پر امت د کورنۍ او بهرنۍ شتمنۍ د وېش ضانت کوي، څو په دې سره د وګړو اساسي اړتياوې پوره شي. د خلافت دولت مشر د هغه مال ساتونکی دی چې د مسلمانانو د سيمو د اړتيا پر اساس دغه شتمني پرې ووېشي.

«خوالله انصاريه» روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمْ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»**

**ژباړه:** *يو شمېر انسانان د الله سبحانه وتعالی مال تر لاسه کوي لکه د مسلمانانو بیت المان ، زکات او نور او د قیامت په ورځ به جهنم ته ولاړ شي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳هـ.د ذولحجې ۳۰مه**

**۲۰۲۲م کال د جولای ۲۹مه**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**